# زېرى

علمي- څېړنيزه، ادبي پنځلس ورځنۍ جريده

د تأسيس کال ۱۳۱٦ هجري شمسي

څلورنۍ (چارشنبه) د سلواغې ۲۱ - ۲۲مه ګنه، پرله پسې (٤٦١-٤٦٢) مه ګڼه، د ۱۴۰۴ل کال د سلواغې ۳۰مه، د ۱۴۴۷هـ.ق. کال د شعبان ۳۰ مه او د ۲۰۲٦م.کال د فبرورۍ۱۸مه


الهــــي هسې شان راکړې محبت ستا
چې پـــــه هره ساه کوم ثنا، صفت ستا
سيال دې نشته، بـاري خدايه لا شريک يې
پـــــه اخلاص کلمه وايم د وحدت ستا

احمد کلاچوي




پوهندوی دوکتور سيد اصغر هاشمي


## د ميرزا خان انصاري په شعرونو کې د معنوي زيږېدنې نظريه (۱) برخه

ميرزا خان انصاري د روښاني دور پياوړی شاعـــر دی. د روښانيانو په دوره کـــې د ځينو شاعرانو شعرونه د عقل، عقلانيت، ارواء معنـــا، دين، مذهب، خدای پېژندنه، د انسان او خدای اړيکې، د انسان او انسان اړيکې او پـــه لسګونو داسې نور مسايل لري چې د فلسفې له ليده نوو څېړنو ته اړتيا لري.

په لويديځ کې فلسفه او په ختيځ کې د روښانيانو عرفاني او تصوفي شعرونه فلسفي رنګ لري. د ميرزا په شعرونو کې د خدای پېژندنې او ځان پېژندنې پـــه اړه خبرې شته چې د بېلګې په ډول د ميرزا پـه څو شعرونو کې د معنوي زيږون نظريه پلټو. په دې اړه خبرې په ويناوو او ليکنو کې ښه ثابتېدلی نه شي، دا عملي تجربه غواړي او انسان يې تجربه کولی شي. د تجربې دغه لابراتوار د انسان دننی نظام دی، خپله انسان دی او د انسان کارخانـــه ده. معنوي زيږېدنه نوې اروايي او ارادي پيدا کېدل دي. پـــه دې زيږون کې اراده له انسان سره ده. د دې ډول پيـــدا کېدلو واک له انسان سره دی، خو بيا هم هـــر انسان نه شي کولی چې دا ډول زيږون تر سره کړي. پـــه تصوف او عرفان کې له نوي پيدا کېدو څخه موخه معنوي زيږون دی. دغه ارادي زيږون له جسمي او فزيکي زيږون څخه څو ځلې غوره دی. په عرفاني نړۍ کې د دې خبرې يادونه ډېره کېږي. اجباري او اضطراري مرګ اختياري نه دی او مخکې له دې مرګ څخه اختياري مرګ غوره کول اړين دي. دلته بيا هم دويم زيږون ته اشاره ده چې مخکې له مرګ څخه مرګ ترې موخه ده؛ يعنې له غير ارادي مرګ څخه مخکې ارادي مرګ ښيي، کله چې انسان دې مرګ ته مخه کړي، معنوي زيږون تر لاسه کوي.

> په لويديځ کې فلسفه او په ختيځ کې د روښانيانو عرفاني او تصوفي شعرونه فلسفي رنګ لري. د ميرزا خان په شعرونو کې د خدای پېژندنې او ځان پېژندنې پـــه اړه خبرې شته چې د بېلګې په ډول د ميرزا پـه څو شعرونو کې د معنوي زيږون نظريه پلټو. په دې اړه خبرې په ويناوو او ليکنو کې ښه ثابتېدلی نشي دا عملي تجربه غواړي او انسان يې تجربه کولی شي. د تجربې دغه لابراتوار د انسان دننی نظام دی خپلـــــه انسان دی او د انسان کارخانه ده. معنوي زيږېدنه نوې اروايي او ارادي پيدا کېدل دي. پـــه دې زيږون کې اراده له انسان سره ده. د دې ډول پيـــدا کېدلو واک له انسان سره دی، خو بيا هم هر انسان نشي کولی چې دا ډول زيږون تر سره کړي.

انسان د دوو خـــواوو (مادي او معنوي) درلودونکی دی، له همدې امله ويلی شو چـــې د دوو ځايونو، هېوادونو او موقعيتونو اوسېدونکی دی. لـــه مادي خوا د مادي هېواد اوسېدونکی دی؛ د بوټو په شان تغذيه کېږي،


۲مخ



ل: پروفيسور محمد نواز طائر

پښتو ژباړه: محمد الله ساپی


## پښتو ژبه او ادب (۲) برخه

### د پروفيسور محمد نواز طائر "پښتو ژبې او ادب ته لنډه کتنه" اردو اثر لومړۍ مقاله

که تاريخ ته پام وکړو څرګنده به شي چې د يونان سکنـدر دلته له ماتې سره مخ شوی دی، مغل هم دلته پـړمخې پرېوتي دي او انګليسان له پيل څخه تر پای پورې له دوی سره په ستونزو او نښتو کې ښکيل پاتې وو خو دې ازادي غوښتونکو د هغوی استعمار ته هېڅکله غاړه کېنښوده. کوم قام چې په لنډه توګه تاسې ته درووپېژندل شو د دوی د ژبې او ادب تاريخ هم بې شمېره رنګينی لري. د ژبـې او ادب په تاريخونو کې د هر قام ماضي او د شاليد يادښـت په سرسري توګه تر نظره تېرېږي خو څنګه چې دا څېزونه هم د دوی د ژبې پورې تړاو لري د همدې لپاره يې يـادونـه لازمه ګڼم او بيا هغه قام چې دومـره لـرغـونـی وي چـې ارياپان يې هم له پولو اوښتې او په ټولې نړۍ کې تـيـت و پرک شوي وي او هغه ژبه چې لـــــه يوه لورې پرې دوی خبرې کوي او له بل لورې همدا ژبه په اصطلاحي معنا د دی قام د ټولنيز ژوند فلسفه او اسـاسي قـانـون وي نـو داسې ادب او ژبه د دوی له ويونکـو او د دوی له تاريخ او پېژندنې څخه څنګه جلا کـــولی شو. د نورو ژبو تـاريخ امکان لري د خالصې ژبې د تاريخ پورې محدود پاتې شي خو د پښتو ژبې تاريخ د دوې له ويونکو څخـه نشـو جـلا کولی او نه د پښتنو اصطلاحي معنا او د پښتنو په ټولنيـز ژوند د دې ژبې له اغيز څخه لـه يوې مخې سترګې پټولی شو. دلته په لنډيز سره د سر اولف کيرو د پټـهـان کـتـاب څخه څو جملې ستاسې په مخ کې ږدو، هغه ليکي:

که څه هم له انګريزانو سره دوی له سلو کـلـونـو څـخـه ډېره موده کېږي چې نږدې اړيکې پالي خو بيا هم پښتانـه د ټولې نړۍ او د خپل ځان لپاره د يوې معما په ډول پاتـې دي. ډېرو وګړو د دوی او د دوی د ټاټوبي پـــه اړه ډېر څه وويل او د کتابونو پاڼې يې پرې تورې کـــړې خو په ډېر مشکل سره يې وکړای شو چې د دوې په هـکـلـه سرسري ځمکه وګروي خو تر دې وروسته د دوی په اړه د ځـمـکـې تل ته ښکته کېدل په کار دي(۱).

> د ژبې د ځينو ماهرينو په اند پښتو ژبه د سنسکرت ژند اويستا خويندې دي. دې درياړو ژبو د منځنۍ اسيا پـه شنو ځنګلونو وچو بيدياوو او لوړو غرونو کې يـو ځای ژوند کړی او يـــــو ځای د تمدن لويو پوړيو ته ختلي دي.
>
> که د زماني څرخ يوه لورې تـــه اويستا او سنسکرت ژبـــې د پخوانو مذهبونو د ادبياتو له زېرمو څخه شتمنې کړې خو له بل اړخه پښتو په خپل ماحول او خپلې خاورې کې د اهريمن ژبه وګرځيده.

له دې حقيقت سترګې نشو پټولی چې د پښتنو رښـتـيـنـی تاريخ عام منظر ته نه دی راوړل شوی. په دې تړاو يـوازې قبايلي روايات، کيسې، نـــکلونه، افسانې اوريدل کېږي. پښتنو سر لښکرو او واکمنانو له خپل هيواد څـخـه ډېـر وړاندې چې کومې لوړې کارنامې ترسره کړې دي


۳مخ



پوهندوی ګل رحمن رحماني


## د ديکلمې هنر

شعر يو هنر او ښه لوستل يـــې بل هنر دی، ګڼ شاعران شته چې هم ښه شعر ليکـــي او هم خپل او د بل شاعر شعر ښه ديکلمه کولی شي، خـــو هر شاعر دا وړتيا نه لري. ديکلمه کلمه فرانسوي ريښه لـــري او د شعر يا بلې نثري ليکنې غوره او په لوړ غږ داسې ادا کولو ته وايي چې په مخاطب اغېز وکړي او د شعر د اورېدلو ذوق يـــــې وپاروي. په درې کې په دکلمه بڼه ليکل کېږي، خو دا چې اصله ريښه يې پـــــه (De) پيلېږي، نو پښتو کې دا ډول کلمې له دال وروسته (ي) هم لري لکه ديپلوم، ديکتاتور، ديپلومات او نور.

د انټرنټ په نړۍ کې د نورو ژبو چينلونه د شعر لـه ښکلو غږيزو او ويډيويي ديکلمو او کليپونو ډک دي، خو د پښتو برخه له بده مرغه چې خواره ده، کـــه وي هم کمې يې په معيار برابـــــر او مسلکي دي، ګڼ يې د ذوق او شوق له مخې ثبت او خپاره شوي دي.

د شعر ديکلمه ډېـــــر جلا او ځانګړی هنر دی، د راډيو افغانستان او ټلويزيون پخواني وياندويان چې وروسته بيا کډوال او د نړيوالو رسنيو کارکوونکي هم شول، د رسا غږونو او ښکلو ديکلمـــــو استادان وو. د دوی غږيزې او ويډيويي ديکلمې او هنري پـارچې اوس هم پيدا کېږي او ښايي د دغو رسنيو آرشيفونو کې هم خوندي وي. دوی به چې کله معرفي کېدل، نو د نـــــورو ځانګړنو تر څنګ به ورته د "ديکلماتور" کلمه هم کارېدله چې په رښتيا هم د هغوی حق و، خـو په را وروسته وختونو کې چې په رسنيو کې د کار معيار کې ښه او رسا غږ ته ډېر پام و نه شو، نو زموږ ژبنۍ پانګه هم له غوره ديکلمو يو څه تشه شوه.

ديکلماتور د شعر نازک وجود تـــــه د غږ رنګينې او د موسيقۍ جامې ور اغوندي، دا جامې چې څومره د شعر له قد او قامت سره متناسبې وي، هومره د ديکلمې اغېز او ښکلا زياتوي. ما چې تـر اوسه کومې ديکلمې اورېدلي او هر ځل ورسره مخ کېږم، ګڼې داسې په کې شته چې د ديکلماتور غږ اصلاً ديکلمې تـــــه جوړ او صيقل شوی نه وي، يا غږ ډېر ښکلی وي، خو ورته د موسيقۍ يا ساونډ ايپکټونو غوراوی او ايډېټ مناسب نـــــه وي چې په هر حالت کې د لوستونکي د غوږ د ازار سبب ګرځي.

> د شعر ديکلمه ډېـــــر جلا او ځانګړی هنر دی، د راډيو افغانستان او ټلويزيون پخواني وياندويان چې وروسته بيا کډوال او د نــــــړيوالو رسنيو کـــــارکوونکي هم شول، د رسا غږونو او ښکلو ديکلمـــــو استادان وو. د دوی غږيزې او ويډيويي ديکلمې او هنري پـارچې اوس هـــم پيدا کېږي او ښايي د دغو رسنيو آرشيفونو کـې هم خوندي وي. دوی به چې کله معرفي کېدل، نـــو د نـــورو ځانګړنو تر څنګ به ورتـه د "ديکلماتور" کلمه هم کارېدله چې په رښتيا هم د هغوی حق و، خـو په را وروسته وختونو کې چې په رسنيو کې د کار معيار کې ښه او رسا غږ تـــه ډېر پام و نه شو، نو زموږ ژبنۍ پانګه هم له غوره ديکلمو يو څه تشه شوه.

زما په اند يو غوره او ښه ديکلماتور بايد لاندې ځانګړنې په پام کې ونيسي:

۱: د شعر انتخاب: پـــــه دې بايد قناعت وکړو چې له لسګونو يو او له سلګونو ښايي لس يـــوولس شعرونه د ديکلمو وړ وي، دا چې کـه څوک ټول ديکلمه کوي، يوازې د غږيز خونديتوب لپاره به وي، نـه د هنري ذوق او معيار د پاللو لپاره، نو ځکه بايد تـــــر ښو ښه او داسې شعر انتخاب شي چـــــې څپې يې رواني، چستې او له ذاتي موسيقۍ او روان والي څخه برخمنې وي.


۳مخ



ل: کانديد اکاډميسين مير حسين شاه

ژ: څېړندوی بشرمل زرغون


## د ويرنې تاريخي شاليد او د قنبر علي خان شعر (۲) برخه

دا چې پارسي شاعري د دربار لـــــه دود پاللو سره پـه ستاينوالی پيل شوې؛ نو په هـمـدې اساس شـاعـري پـه بوللو (قصيدو) ويلو پيل شوه او د ويناوالی بـېـلـګـې چـې شور، خوښي او نفساني تعبيرات پکې شته وو او ويرنه يو لـــه همدغو څخه ده، لکه د پخوانو په ويناوو (کلامونـو) کــــــې داسې شعرونه وو چې پکې طبيعي احساس او رښتينی شور پر ځای پاتې و[۱۴].د بېلګې په توګه د سهراب د مور غم او نارې چې د زوی په مرګ يې کړې:

همی ګفت کای جان مـــــادر کنون
کجايی سر شته به خاک و بـــه خون
دو چشم بره بود ګفتم مـــــــګر
ز سهراب و رستم بيابم خـــــــبر
پـــــــــدر را همی جستی و يافتی
کنـــــــــون بآمدن نيز بشتافتی
چـــــــه دانستم ای پور کايد خبر
کــــــه رستم به خنجر دريدت جګر
دريغش نيامــــــــد از آن روی تو
از آن بـــــــــرز و بالا و ياز وی تو
بـــــــه پرورده بودم تنت را به ناز
بــــــه رخشنده روز و شبان دراز
کنون آن به خون اندرون غرقه ګشت
کفن برتن پاک تـــــــو خرقه ګشت
کنون من کرا ګيرم انـــــــدر کنار
که خواهـــــد و بدن مرمرا غمګسار
کرا ګـــــويم اين در دو تيمار خويش
کرا خـــــوانم اکنون به جای تو پيش
دريغا تن و جـــــان و چشم و چراغ
به خاک اندرون مانـــــد از کاخ و باغ
پدر جستی ای ګـــــــرد لشکر پناه
به جای پدر ګورت آمـــــــد پناه[۱۵]

يـــا د فرخي شعر چې د محمود غزنوي په وير(مرګ) يې ويلی چې له يوولسو او دولسو بيتونو ډېر نه دی:

**شهر غزنين نه همان است که من ديدم پار...**

اميرخسرو ډهلوي هم همدا ډول ويرنې لري چې مشهوره ويرنه يې د مور او ورور په باره کې بوللې ده:

امسال دو نــــــور ز زاخترم رفت
هــــــــم مادر و هم برادرم رفت
يــــــــک هفته ز بخت خفتۀ من
ګــــــــم شد ومه دو هفته من
بــــــخت از دو شکنجه داد پيچم
چرخ از دو طپانچه کــــــرد هيچم
ماتم دو شد و غــــــــم دو افتاد
فرياد کــــــــــه ماتمم دو افتاد
حيف است دو داغ چـــــون منی را
يک شعله بس است خـرمنی را[۱٦]

ځينې وخت پـــــه ويرنه کې ادبي صنايع هم کارېږي، د شفق سوروالی، د شپې توروالی او د سحرباد له پخوالي سره ورته کول دا ټول څيزونه يـــــا ادبي صنايع د ديوان خاوند شمس الدين (٦٨٣ هـ، ۱۲۸۴ ز) په شعرونو کې له ورايه ښکاري:

از رفتن شمس از شفق خـــــون بچکيد
مـــــه روی به کند و زهره ګيسو بدريد
شب جامه سيه کرد در اين ماتم صبح
بــــــر زد نفسی سرد و ګريبان بدريد

مرزا چې په (۸۳۷هـ) کې تېر شوی د ځوانمرګي بچي پـه غم کې چې هر اړخيزې صنايعې يې کارولې:


۲مخ

## د میرزا خان انصاري په شعرونو...

لویېږي، بشپړېږي او مِثل تولیدوي، د څـــارویو په شان شهوت او غضب لري؛ هغه کړنې چې پـه خوښه یې وي او په طبع یې برابر وي، مینه ورسره ښکاره کوي او هغه کارونه چې په خوښه یې نه وي او له طبع سره یې مخالف وي، نه یې تر سره کوي او کرکه ترې کوي. له دغو دلایلو څخه څرګندېږي چې د انسان، څـــاروي او نبات ژوند په ډېرو ځایونو کې ورته والی لري او د دوی تـر منځ د مرز یووالی لیدل کېږی، خو د انسان ژوند پـه دغه محدود وخت کې پای ته نه رسېږي خو د عقل، عقلانیت، تفکر او پوهې پر بنسټ او همدارنګه د اروا او روحانیت لـه مخې، د لس حسونو له امله د انساني ارادې له مخې، د اشرف المخلوقات د پیدایښت له امله د مادي خوا تر څنګ غیر مادي خوا هم لري چې ورتـــه معنویت ویلی شو، نو له مادي خوا ژوند او هېواد څخه پرته یې لـــه معنوي هېواد سره هم اړیکه شته نو ځکه دوه تابعیته دی.

> په تصوف، عرفان، خدای پېژندنې او فلسفه کې د انسان په دوه ګونو خواوو بحثونه کېږي چې دغه دوه خواوې د انسان د ظاهري او باطني جوړښت او رغښت څخـه عبارت دي. ډېر ادیان، پـوهان او فرهنګونه د انسان د دنننی جوړښت یادونه کوي چې کله کله دغه بحث زړه او اروا سره تړاو پیدا کوي. که ابن عربي په باطنیت او دنننی ځواک ټینګار کوي، افلاطون هم ورته نظر لري او انسان د لوړتیا پوړۍ ته د رسېدو لپاره د دنننی نظام یادونه کوي. د کامل انسان او پـه انګریزي ادبیاتو کې د سوپر مین ځانګړنې په انساني ښو ځانګړنو کې دي چې د انسان د دنننی نړۍ سره تړاو لري. د معنوي زېږېدنې نظریه د انسان له دننه سره اړه لري، په دنننی نظام کې بدلون راځي او انسان یو نوی ژوند پیلوي.

د عارفانو له لیده انسان درې ډوله ژوند لري، درې ډوله مرګ لري او له درې ډوله قیامت سره مخامخېږي. وایي: د متن لنډیز دی: د درې ډوله ژوند په برخه کې یو طبیعي ژوند دی، دې ته ذاتي ژوند هم وایي چې د نړۍ انسانانو ته ورکول کېږي، په دې برخه کې انسانان سره یو شان دي خـــو په کسبي ډول انسان کولی شي چې خپل برخلیک وټاکي او خپله اړیکه له خالق سره جوړه کړي، دې ډول پیدا کېدلو ته جسمي پیدایښت وایي چې د مور او پلار لخوا تر سره کېږي او د کرموزومونو د یو ځایوالي په وسیله تر سره کېږي. په دې پیدایښت کې د جنسیت ټاکلو دنده د پلار ده او دا امتیاز خالق تعالی انسان "نارینه" ته ورکړی دی. له دې پیدا کېدلو څخه سربېره بل ډول پیدایښت ته معنوي او غیر ارادي زېږون وایي. په دې ډول پیدایښت کې منکرات او ناسم کارونه پرېښودل کېږي او درېیم ژوندون له جسماني مرګ څخه وروسته په بلـــې نړۍ "اخرت" کې تلپاتې ژونـد دی. یو طبیعي او غیر ارادي مـرګ دی چې د خالق تعالی لخوا انسان ته په تقدیر کـې مقرر شوی وي. دویم مرګ د منکراتو او له ناسمو کـارونو پرېښودلو سره پیلېږي چې دا هم د الله پاک لخوا پـــه لوح محفوظ کې لیکل شوی وي. له نفس سره مبارزه، د شهواني او غیر انساني کارونو پرېښودل دي. دې ډول مړینې ته اختیاري مړینه وایي.(۱).

د غیر ارادي او ذاتي مرګ په برخه کې د دې یادونه اړینه ده چې انسان په دغه برخه کـــې بې اختیاره دی، خو د اختیار سلبېدل یې د انسان په ګټه دي او په ازل کـــې ده ته د هـر شي لیکل یې په ګټه دي. د انسان جنسیت ټاکل له پیدایښت څخه وروسته یو غیر ارادي کار دی، دوی ته غذا رسېدل د دوی په خوښه نـه وي، په دوی چې کومې خوښې او خپګانونه تېرېږي، د دوی په لاس کې نه دي، د دوی پیدا کېدل غـــیر ارادي دي، د کروموزومونو دنده د دوی پــــه خوښه نه ده، ژینونه د دوی په خوښه کار نه کوي؛ یعنې "ډي این اې" د بل چا په لاس کـــې دي. په حقیقت کې جسمي زېږون د معنوي زېږون لپاره وي. که چېرې یو انسان دویم زېږون ونه کړي جسمي پیدایښت به یې تر پوښتنې لاندې وي. که انسان پیدا شي او ځانګړنې یې د انسان نه وي، انساني ستونزې ولري، نو له دې څخه څرګندېږي چې پیدایښت یې کومه مانا نه لري.

د پښتو ژبې د ډېرو شاعرانو او عارفانو پـــه شعرونو او افکارو کې "له مرګ څخه مخکې مرګ" نظریـــه لیدل کېږي. اروایي ارامتیا، ازادي او له بې ځایه بندیزونو څخه خلاصون، هغه ښکلی خوب دی چې د مسلمانو عارفانو په ویناوو او لیکنو کـې په ښه ډول تعبیر او تفسیر شوي دي. دوی د دې خوب د تحقق لپاره لـــه رنګینو خوبونو څخه ګټه اخیسته او له بېلا بېلو لارو چـــارو څخه یې استفاده کوله چې یوه لار یې "مرګ پیش از مرګ"؛ یعنې "له مرګ مخکې مرګ" نظریه ده. په تصوف او عرفان کې یې یو بل تعبیر "فنا فی الله" دی. په دې لارې او طریقې کې عارف مخکې له دې چې طبیعي مرګ ورته ورسېږي او یا جسماني او فزیکي مرګ یې په برخه شي، په خپله خوښه له ناسم او خراب ژوند، بدو صفتونو، نفساني، شهواني او د جسماني کړنو مړینه تر لاسه کوي او ښو اخلاقو، صفتونو او اروایي کړنو ته ژوند ورکوي؛ یعنې له ځان (خود) څخه فاني کېږي او له خدای جل جلاله سره باقي کېږي. په اسلامي عرفان کې "له مرګ مخکې مرګ" په نورو تصوفي تګلارو کې له ورته مفهوم څخه کار اخیستل کېږي چې ښه بېلګه یې د بودایي مذهب په تصوف کې "نیروانا" دی.

(په تصوف او عرفان کې "موتوا قبل ان تموتوا" یادونه د حدیث شریف پر مصداق کېږي، چې ژباړه یې »مړه شئ، مخکې له دې چې مړه شئ) (۲).

(په همدې اړه عین القضات همداني په خپل کتاب کې د عارفانو په استناد "له مرګ مخکې مرګ" په اړه داسې وایي: (سالک باید دوه ځلې وزېږي، یو ځل له مور څخه چې خپل ځان او فاني نړۍ ویني او یو ځل له خپل ځان او خود څخه چې د هغه نړۍ بقا او خدای ویني.) (۳).

په حقیقت کې د داسې مرګ حقیقت او واقعیت د نفس د صفتونو مرګ دی، نه خپله د نفس مرګ. د جسمي او معنوي مرګ او زېږېدنې مفهوم په ځینو عرفاني لیکنو کې سره ورته خبرې لري. جسمي، فزیکي او غیر ارادي مرګ د جسم مرګ دی او دویم او ارادي مرګ د جسم د صفتونو مرګ دی.

> (د عمر په اړه له یو عالم څخه پوښتنه کېږي:
> ـ څو کلن یې؟
> ـ ویې ویل: څلور کلن یم.
> ـدا څنګه کېدلی شي؟ ویې ویل: اویا کاله کېږي چې د دنیا په حجاب کـې یم؛ یعنې د دنیا سره اړیکه لرم او دنیوي انسان یم. د اخرت په اړه بې پروا وم، خو څلور کاله کېږي، چې هغه وینم، نو ځکه زما اصلي عمر همدا "څلور" کاله دی.) (۴).

په دې اړه راغلي دي: (په عرفاني انسان پالنه کې معنوي زېږون د ارادي مرګ محصول دی. طبیعي ژوندون هغه پړاو دی چې د الله تعالی لخوا ټولو ژوندیو موجوداتو ته ورکول کېږي، له دې ژوندون سره مرګ تړلی دی او کله چې الله تعالی وغواړي موجود له منځه ځي. په دغه ډول پیدا کېدلو او مړ کېدلو کې اراده او اختیار له انسان سره نه وي. په عرفان کې یو بل ډول ژوندون هم شته چې د معنوي ژوندون په نوم یادېږي، د دې ژوند اړیکه له اروا سره وي. دې ډول ژوند ته معنوي ژوند وایي او په دې برخه کې د انسان اراده او اختیار اړین دی. د انسان په لاس کې دی، څه وکړي چې د معنوي ژوند څښتن شي. دې ډول ژوند ته معنوي زېږون وایي، په دې زېږېدنه کې انسان په اروایي ډول زېږي دا زېږېدنه له جسمي زېږېدنې ډېره مهمه ده، په جسمي ډول د نړۍ ټول انسانان زېږون کوي، خو معنوي زېږون د لږو خلکو په نصیب کېږي او هر څوک نشـي کولی چې اروایي زېږون وکړي. د دې ډول زېږون مرګ له مادي، شهواني شیانو څخه لاس اخیستل دي. لومړنی ژوند جسمي دی چې له موره پیدا کېږي، دویم زېږون د اروا دی چې د مادي او شهواني مسایلو پرېښودل دي او درېیم ژوند په بلې نړۍ کې له مرګ څخه وروسته تلپاتې ژوند دی چې د نړۍ په حماسو کې پرې بحثونه شوي دي. تلپاتې ژوند د هغه نړۍ ډالۍ ده چې د لږو خلکو په برخه کېږي.) (۵).

ځینې شیان انسان ته د الله تعالی لـخوا پـه ذاتي ډول ورکول کېږي، د بېلګې په ډول د ټولو انسانانو دنـنـنـی او بهرنی جوړښت، په بهرني جوړښت که ډېر شیـان راتـلـی شي، لکه سترګې، غوږونه، لاسونه، پښې، پوزه او داسې نور. په دنننی ورکړل شوو شیانو کې مغز، زړه او داسې نور. په دې ډول ورکړل شوو شیـانـو کـې اراده لـه اللـه تعالی سره ده چې د انسان واک په کـې نشتـه. دې تـه جسمي زېږون ویلی شو. کله چې انسـان پـیـدا شي، پـه ارادي ډول ځینې شیان زده کوي او په دې برخه کـې واک له انسان سره دی چې څه وکړي. که چیرې یـو انسـان د الله حق وپېژني او ځان په افقي ډول د سیر او سلوک پـه ډول موخې ته ورسوي، دا معنوي زېږون دی.

### مأخذونه


۱. حسن ابادی، مجید صادقی و دوستان. انسان و تـولـد معنوی، سال هشتم، شماره ۲۵. انسان پژوهشي دیـنـي، ایران: ۱۳۹۰ل، ٦۲مخ.
۲. فاضلی، قادر. تولد دوباره، کیـهـان انـدیشـه، شـماره ۸۰، ۱۳۷۷ل، ۲٦مخ.
۳. پورتنی اثر، مخ ۲۸.
۴. پورتنی اثر، مخ ۴۴.
۵. حسن ابادی، مجید صادقی و دوستان. انسان و تـولـد معنوی، سال هشتم، شماره ۲۵. انسان پژوهشي دیـنـي، ایران: ۱۳۹۰ل، مخ ٦۰.


## د ویرنې تاریخي شالید او...

> در ماتــم تو دهر بسی شیون کرد
> لاله هــمه خون دیده در دامن کرد
> گـــل حبیب قبای ارغوانی بدرید
> قمری نمدی سیاه در گردن کرد[۱۷]

په ځانګړې توګه هغه شعرونه چې د کربلا د پېښـې او د حسین بن علي د مړینې او د آل اصحابو د ویر په اړه ویل شوې وي؛ ویرنه بلل کېږي. د ویرنې په شـکـل شعـرونـه ویل د صفوي حکومت په وخت ډېروالی وموند چې ډېر شعرونه د اهل بیتو په غم کې وبولل شول[*].

د شاه عباس صفوي (۹۹٦ـ ۱۰۳۸هـ) په اړه ویـل شـوي چې کوم وخت محتشم کاشي د ده ستاینزه بولله وویله؛ نو ده ورته وویل: ((زه ستاینې ته اړتیا نه لـرم، د خـدای جل جلاله د رسول صلی الله علیه وسلم د زړه ټوټـې پـه اړه یو څه ووایه چې دنیا او اخرت دواړو ته ګټه لري[۱۸])).

د اول ځل لپاره همدا د ویرنې په شکل شعر چـې وویـل شو؛ هغه د علي بن ابی طالب لور زینب رضی الله عـنـهـا ووایه چې د خپل ورور حسین رضی الله عنه د مـرګ پـه ویر یې وبوله.

د عاشورا په ورځ قره بن قیس تمیمي وویل: ((هر څه بـه هېر کړم، د زینبې (د فاطمې لور) وینا به هېـره نـه کـړم؛ کله چې د قاتل تر څنګ تېرېده؛ نو ویل یې: ای محمـده! ای محمده! د اسمان پرښتې پر تـا صـلـوات وایـي، دغـه حسین دی، په دښته کې په وینو لړلی، له پرې شوو غـړو سره پروت دی، ای محمده! لونې دې اسیرانې دي، پـاتـې شوني دې وژل شوې دي چې باد پرې لګېږي[۱۹])).

عبدالرحمن بن عبید ابی الکنود وایي: ((کله چې د مدینې خلک د حسین له مرګه خبر شول؛ نو د عقیـل ابـن ابـی طالب لور له یو څو ملګرو مېرمنو سره خپل سرونه وهـل او په لوپټو یې ببرته پټول او شعـرونـه یـې ویـل چـې د شعرونو منځپانګه یې دا ده: څه به وواییځ؟ چې پیـغـمـبـر (ص) تاسې ته ووایي: تاسې چې وروستی امت یاست، لـه ما وروسته زما په کورنۍ مو څه وکړل؟ نیمـه مـو اسیـره کړه او نیمه مو په وینو ولړله، دا لـورېـیـنـه زمـا وه چـې ستاسې سپارښتنه (شفاعت) مې وکړه، زما له خپلوانو او کورنۍ سره احسان (نېکي) وکړئ، که داسې وواییـځ؛ پـه ځواب کې یې څه وایئ)).

> ماذا تَقــــــولونَ إن قالَ النَبیُّ لَکُم
> ماذا فَعَـــــلتُم وَأنتُم آخِرُ الأمَمِ
> بعترتی و بـــــاهلی بعد مفتقدی
> منهـــم اساری و منهم ضرّجوا بدم
> مــاکان هذا جزائی اذ نصحت لکم
> ان تخلفونی بسوء فی ذوی رحمی[۲۰]

ابوالاسود دولي د دې تر څنګ ابن زیاد حسین ته دا ډول بولله ویلې ده: ((له غمه یې وایم، خدایه زموږ ټاټوبی دې ډېر راونړاوه او دا د هغه چل او خیانت له امله چې ویـې کړ څمکه پر بله داسې واړوه لکه د ثمود او عاد په ټبرونـو چې دې واړوله[۲۱])). مګر د پارسي شعر په اوو کړیو او د محتشم د ویرنې په دولسو کړیو کې چې ډېره اوڅاره ده؛ له لفظي صنایعو پاکه او ډېره روښانه او فصیح ده چې مذهبي احساس ورنه کېږي او هغه عبارت ده له:

> برخوان غم چو عالیمان را صـــلا زدند
> اول صلا بسلسله انبیــــــا زدند
> نوبت به اولیا چو رسید اســمان طپید
> ز ان ضربتی کـه بر سر شیــر خدا زدند
> پس آتشی ز اخـگر الــــماس ریزها
> افروختند و بر حـــــسن مجتبی زدند
> و انگه سرادقیکه مـلـک محرمش نه بود
> کند ندا ز مــــــدینه و در کربلا زدند
> و ز تیشه ســتیزه در ان دشت کوفیان
> بس نخـــل ها ز گلش ال عبا زدند
> پس ضربتی کــز آن جگر مصطفی درید
> بر حلــــق تشنه خلف مرتضی زدند
> اهل حــــرم دریده گریان کشاده موی
> فریاد بر در حــــــرم کبریا زدند
> روح الامین نهــــــاد بزانو سر حجاب
> تاریک شد ز دیدن او چــــشم آفتاب[۲۲]

قاني (۱۲۷۰ هـ، مړ) د حسین بن علي رضی الله عـنـه د ویر په اړه چې د سوال او ځواب په ډول ویرنه ده؛ وایي:

> بارد چه؟ خون که؟ دیده چسان؟ روز شب چرا؟
> از غم کدام غم؟ غـــــــم سلطان کربلا
> نـامش چه بود؟ حســــین از نژاد که از علی
> نـامش که بود؟ فاطمـــه جدش که؟ مصطفی
> چــون شد؟ شهید شـــد به کجا؟ دشت ماریه
> کـی؟ عاشـــــــر محرم پنهان؟ نه بر ملا
> شب کشته شد؟ نـه روز چه هنگام؟ وقت ظهر
> شد از گلـــو بریده سرش؟ نی نی از قفا[۲۳]

په اردو ادب کې ویرنه د شعر ځانګړی ډول دی چې پـکـې د پېښې راخیستنه او طبیعي منظرې په ښـه شان بـیـان شوې دي، د شعر په یاده بېلګه کې څنګه چې طبیعت پـه رښتیني ډول نه دی انځور شوی؛ نو د جنګ مـنـظـرې، د خلکو قرباني، د سحر، ماښام برابري، د څنګله مـنـظـرې او د بیدیا ډېره ګرمواله په نرمو کلمو بیان شوې، پـه اردو ویرنه کې کلمې او وییونه په ډېر کمال روښانه شوې.

په دې ژبه کې ویرنه د لومړي ځل لپاره په دکن کې پـیـل شوه، لومړی شاعر یې شېخ شجاع الدین نوري بیجاپوری دی، نوموړی د جلال الدین اکبر د زمانـې لـه شـاعـرانـو څخه دی، د ګولکنډې او بیجاپور پاچاهانو نه یـواځـې دا چې د شاعرانو درناوی کاوه؛ بـلـکـې د خـپـلـو مـذهـبـي احساساتو په درلودو یې ویرنه بولله؛ مګر په هغه وخـت کې ویرنه په منځوي حالت کې وه[۲۴]. ویرنه پـه دې ژبـه کې د شاهانو په زمانه کې اوج ته رسېدلې ده، واجـدعـلـي شاه چې په اختر نوملی و؛ د دغې کورنۍ وروستـی پـاچـا دی، نوموړی خوږه شاعري او ناتمامـه ویـرنـې درلـودې، کله چې انګلیسیانو دی په (۱۸۵٦م) کې له پاچاهۍ لـرې او کلکتې ته یې واستاوه؛ نو د خدای پامانۍ په وخت کـې یې ویرنډولې بیتونه وبولل چې مطلع یې دا ده:

> در و دیوار حسرت ســـــے نظر کرتے ہیں
> رخصت اے! اهل وطن هم تو سفر کرتے ہیں

په اردو کې تر ټولو لوی ویرنبولی شاعر میر انـیـس دی، میر دبیرعلي انیس په (۱۸۰۱م) د فیض آبـاد ایـالـت پـه اوسني اترپردیش کې دې نړۍ ته سترګې پرانېستې دي او په (۱۸۷۴م) کې مړ شوی دی، انیس په اردو شاعرۍ کـې لوړ مقام لري، نوموړي په داسې وخت کې ساده شاعـري وکړه چې د اردو شعر ډېره پېچلتیا درلوده، د ده په ویرنه کې د سادګۍ عبارت ډېر اوڅار دی، کله چـې حسین د جنګ ډګر ته ځي؛ نو د ده په ویر کې وایي:

> اے فاطمه کے جان! خدا حافظ و ناصر
> اے دین کے سلطان! خدا حافظ و ناصر

او د پېغمبر صلی الله علیه وسلم د لور فاطمې رضی الله عنها د ستاینې په اړه یې ویلي دي:

> دنیا کا شرف، زینت دین، عرش کا زیور
> خاتون جهــــان، نور خدا، بنت پیغمبر

او د حسین رضی الله عنه په ستاینه کې وایي:

> اے نور چشــم احمد مختار رحم کر
> اے یــــــادگار حیدر کرار رحم کر
> اے امـــــت نبی کی مددگار رحم کر
> اے بحر عظیم حضرت قهار رحم کر

حسین رضی الله عنه چـــــې کله د عاشورا پـه ورځ ماسپښین مهال د ماسپښین لمونځ کاوه؛ دغه شعر یـې ورته د لمانځه اړوند ویلی دی:

> صف میں هوا جو نعره قد قامت الصلواة
> قایم هـــــــوئی نماز اٹها شاه کائینات

د عباس بن ابی طالب رضی الله عنه په ستاینه کې وایي:

> صفدر غازی جرار تهے سبحان الله
> زاهد و عابد و ابرار تهے سبحان الله

> ★: بولله د شعر یو ځانګړی فورم دی چې یو وزن، قافیه یا ردیف لري. په یوه موضوع تر اخره څرخي. د پاچاهانو په ستاینو، غم، ویر، نمانځنو، سوبو، ګیلو، ویاړنو... کې تــر اخره بولل شوې وي. ځینې وخت د ویرنې په شکل یو چا ته د درنښت په موخه ویل شوې وي چې پکې اخلاقي، ټولنیز او عــرفاني مسایل رانغښتې وي او یا ورته مثالونه پکې پییل شوې وي. د بیتونو شمېر یې منځوی دی، له شپاړس نیولې تر شل او له شل نیولې تر اویا، زیات یې له پنځوس نیولې تر سل ویل شوی دی. ځینو له شپاړلس تر شل بیتونو ځانګړې کړې؛ په پښتو کې یې لرغونې بېلګه د شېخ اسعد سوري ده. دغه بولله یې د غور پاچا په ویر او غم کې بوللې ده، دا یې د سر بند دی:
> د فلک له چارو څه وکړم کوکار
> زمولوي هر ګل چې خاندي په بهار

### مأخذونه او څرګندونې


۱۴.سکینه، رام بابو. تاریخ ادب اردو، ژباړن: میرزامحمد عسکري، کرشن نګرلاهور: ، ۳۱۹ مخ.
۱۵. فردوسي، ابـــــوالقاسم. شاهنـامه، آفسټ چاپ، دولتي مطبعه، کابل، ۱۱۸ مخ.
۱٦. نعماني، شبلي. حضرت امیر خـــسرو ډهلوي او د د ژوند او اثار، کوه نور پرېس: ډهلي، ۱۹۷۵ز، ۲۷ مخ.
۱۷. حسن، هادي. مقالو ټولګه، حیدراباد: ۱۹۵٦ ز، ۱۳۵ مخ.
۱۸. شعرالعجم، شبلي نعماني، ژباړن: سید محمد تقي فخر داعي، تهران، ۱۳۳٦ هـ، ۱۱۸ مخ.
۱۹. تاریخ طبري، محمد بن جــــریر طبري، ژباړن: ابو القاسم پاینده، اووم ټوک، تهران: ۱۳۵۲ هـ، ۳۵٦۵ مخ.
علي بن حسین وایي: ((یوه شپه چې سحر ته مې پلار وژل کېده؛ ورسره ناست وم. عمه مې "زینب رضی الله عنها" هم راسره وه، زما ملتیا یې کوله. پلار مې خېمه کې له ملګرو ځان ګوښی کړی و. اوڅار غلام ابوذر غفاري رضی الله عنه ورسره و، توره یې پرته او تېره کوله یې، پر دې مهال مې پلار شعر وایه، په دې ډول:
ای روزګار پلید که دوست بدی = و صبحگاهان و شبانگاهـــان
یاران دنیا جویان کشــته داری = رزوګار عــــــوض نمیپذیرد
کار بدست خدای جلیل اسـت = و هر زنده ای براه مرگ میرود
(طبري تاریخ، ۳۵۱۷ مخ)
مولانا کمال الدین حسین واعظ کاشفي(۹۱۰ هـ ق مړ)د تېموري دورې وروستی نوموتی او د سلطان حسین بایقرا معاصر د "روضة الشهدا" په نوم یو کتاب په نظم او نثر وکیښ چې دیني ویناوالو به په منبر لوست. دا اثر یوه ستاینه ده چې د اهلبیتو په پاکۍ کې کښل شوی او لوستونکي یې د منبر پر سر د ادیرې د یادونې په اړه لولي. دې ناستو کې چې د کتاب کوم څه لوستل؛ هغې ته یې د (ادیرې وینا) ویله، دغه ګړنه تر ننه پاتې ده. دا که د (روضةالشهدا) په ناسته کې ویل کېږي او که نه ویل کېږي.
خانلري، زهرا. فرهنګ ادبیات پارسي، تهران، ۱۳۴۸هـ، ۲۴۰ مخ
۲۰. مروج الذهب و معادن الجواهر، درېیم ټوک، ۱٦ مخ.
۲۱. پورتنی اثر، ۷۲ مخ.
۲۲. برون هاکمرج. تاریخ ادب ایران، ۱۹۵۹م، ۱۷۳،۱۷۴ مخ.
۲۳- پورتنی اثر، ۱۷۸ مخ.
۲۴- تاریخ ادب اردو، ۳۲۰ مخ.


(پاتې برخه بله ګڼه کې)

زېری
علمي- څېړنیزه او ادبي پنځلس ورځنۍ جریده

۱۴۰۴ل د سلواغې میاشتې ۳۰
۱۴۴۷ق د شعبان میاشتې ۳۰
۲۰۲٦م د فبروري میاشتې ۱۸

دریمه دوره
خلورنۍ (چارشنبه)
د سلواغې ۲۱ - ۲۲ مه ګڼـــــه
پرله پسې (٤٦۱ - ٤٦۲ مه) ګڼه

# پښتو ژبه او ادب...

چې په دې کارنامو کې د ډیلي واکمنان لویه ونډه لري، په دې اړه په پراخه کچه بشپړ تفصیلات شتون لـري او ګڼ تاریخونه د پښتنو په اړه لیکل شوي دي خـــو بیا هم د پښتنو په تړاو ټولو لیکلو شوو تاریخونو تـه د پښتـنـو د اوږده تاریخ یو لنډیز ویلی شو څکه پښتانه له پېړیو پېړیو راپدیخوا په د هند په لویه وچـــــه او د خراسان ترمنځ غرنیزو څمکو کې میشت دي، چــــېرې چې لوی لـوی تهذیبونه یو له بل سره مخ شوي او ټکرې یې وهلي دي. د دې غرنیزو سیمو له اوسیدونکو سره د نړۍ لـویـو لـویـو، امپراطورانو لکه د سمندر د څپـــو څو څو ځلې سرونه جنګولي او په دوی یې چپاو راوړی دی. کــــه څه هم نیواکګر د لویو لویو واکمنیو د جوړیدو لپاره د دوی لـه سیمو څخه تېر شوي دي او پښتنو چــې لـه دوی سره د ساتونکو دندې ترسره کولې، د دې فرصت یې نـــــه دی ترلاسه کړی چې خپل تاریخ ته پاملرنه وکړي. د پښتنو په هیواد او ټاټوبي داسې مفصل تاریخ نه دی لـیـکـل شـوی چې د نوي عصر نوی مسلسل تــــاریخ ورته وویل شي. داسې تاریخونه خو نه خپله پښتنو او نه هـغـوی لـیـکـلي چې د پېړیو پېړیو راپدیخوا له دې سیمې څخه تېر شوي. تېرو نسلونو چې هم یې په پښتو ژبه خبرې کولې او هـم یې همدا پښتو د ټولنیز ژوند قانون وو، همدا پښـتـانـه د روه د غرنیزو څمکو هغه ځانګړي اوسیدونکي دي چې د نني عصر مفکر د دې سیمې ستراتېژیک جـــغـرافـیـوي موقعیت او د سیاسي اهمیت لـــه مخې د اسیا زړه ورتـه ویلی دی. د اقبال لاهوري په قول:

اسیا یـــک پیکر آب وګل است
ملت افغان در آن پیکر دل است
از فســـــاد او فساد اسیا
در کشاد او کـــــشاد اسیا (۲)

مؤرخین او د لرغونو اثارو ماهرین تر اوسه د دې راز پـه خرګندولو بریالي شوي نه دي چې د اسیا پـــه زړه کې دا پښت له کومې زمانې څخه میشت دی؟ خـــو ټول په دې خبره یوه خوله او باوري دي چې د اټکل له مخې دوی لـه میلاد څخه وړاندې د دوو نیمو زرو او تر پنځو زرو کلـونـو راپدیخوا په همدې سیمه کې استوګنه لـــري. د دوی د نسل او نسب لړۍ هم د مؤرخینو لپاره دومره پیـچـلـې او لاینحل پاتې ده او تر کلونو کلونو پورې د څـېړونـکـو او مؤرخینو لپاره دا یوه ځانګړې موضوع ګرځیدلې چـــې ایا دوی سامي نژاده دي او که اریایان؟ هـمـدې مسـایـلـو د دوی په هکله ټول بنسټیز معلومات او حوالې له شکـونـو سره مخ کړي دي. څرنګه چـــې دا موضوع د تاریخ او د لرغونو آثارو ماهرینو د بشر او د انسابو څېړونکو تـرمـنـځ همداسې اختلافي پاتې ده او په دې اړه ټول یوې مـثـبـتـې پایلې ته نه دي رسیدلي څکه نـو د ادبیاتو په تاریخونو کې د دوی په هکله لیکل شوي ټولې لیکنې په فـرضـیـو ولاړې دي، خـــو بیا هم د ادب او ثقافت زده کړه یالان په دې خبره یوه خـــوله دي چې د پښتو ژبې او ادب هغه برخـه چې په خپلو ولسي اوزانو کې تر اوسه د پښتنو په ولـسي ژوند کې ژور ځای لري او لــــه پیل څخه د دوی د ژوند د جذبو او احساساتو د خیالونو او افکارو ترجـماني کـوي، دا د لرغوني زماني یادګار دی چې په پلټنه کې یې د تاریخ د کتابونو پاڼې اړول بې نتیجې پای ته رسیږي.

د ژوندانه څرخ او د زماني ټولو ناخوالو ونشو کړای چې د پښتو ژبې د لرغونو ادبیاتو په مخ کې خنډ رامنځته کـړي او یایې له خپلې لارې بل لورې تـه واړوي. د ژبې د ځینو ماهرینو په اند چې پښتو ژبه د سنسکرت، ژند او اویستا خویندې دي. دې دریواړو ژبو د منځنۍ اسیا پــــه شنو ځنګلونو وچو بیدیاوو او په لوړو غرونو کې یـو ځای ژوند کړی او یو ځای د تمدن لویو پوړیو ته ختلي دي. کــــه د زماني څرخ یوه لورې تـــــه اویستا او سنسکرت ژبـې د پخوانو مذهبونو د ادبیاتو له زېرمو څخه شتمنې کـړې او دې دواړو ژبو ته د زردشت او هندو مذهبونـو لـه بـرکـتـه سپېڅلتوب په برخه شوی دی خو له بل اړخـه پښـتـو پـه خپل ماحول او خپلې خاورې کې د اهریـمـن او د دوزخ ژبه وګرځیده(۳) د اوسني پیر یو پښتون شاعر امیرحمـزه خان شینواري د زماني د دې چلند پـر خلاف خـپـل غږ داسې اوچت کړی دی.

وایي اغیـــار چې د دوزخ ژبه ده
زه به جنت تـه د پښتو سره څم(۴)

د ماضي دې هېښوونکو پېښو د پښتو ژبې پیکر (ستې) تـه هېڅ ډول زیان و نه رساوه څکه دې ژبې پـه هـېـڅ دوران کې د خپلو ویونکو سره پریکون و نه کـړ. سـنـسـکـرت او اویستا دواړه ژبې یـــا خو د خپل مذهب او یا د ماحول د بدلون له امله د ژوندۍ ژبو له کتار څخه بهر شـوې او د منځنۍ اسیا په دې دریواړو لویو ژبو کې یـوازې پښـتـو د خپل چاپیریال او د خپلو ویونکو پښـت او قـام سره تـر اوسه پر خپل حال ژوندۍ پاتې ده.

د اوستا او سنسکرت مذهبي ترانې او دعاوې د لـــرغونو زمانو د انسانانو لپاره د روحاني ډاډګیرنې لامل ګرځیدلی وې. د دوی تخلیق او پنځونې د هغې پېر د انسانانـــو د روحاني تسکین لپاره رامنځته شوې وې. کــه څه هم دا منظومې سندرې او ترانې هم په ولـســي انداز سره ویل شوې وې او په خپل یوه ځانګړي طرز جـوړې شـوې وې چې له یوه پښت څخه بل پښت ته په شفاهي ډول سینـه په سینه لیږدول کیدې او په حقیقت کـــې دا سندرې د هغوی د اراوو غږ وو چې د هغې زمانـــــې او چاپیـریـال زېږنده وې خو کله چې دې ژبو مذهبې سپېڅلتیا تـرلاسـه کړه نو بیا یې له ولس سره اړیکې پــــرې شوې او د یـوې ځانګړي مذهبې کړۍ او فرقې په لاس کــــې ولویدې. د تعلق او د لاتعلقۍ په دې کړنو کــــې د عامو وګړو د احساساتو او افکارو د ترجمانۍ لپاره په هغې زمانه کـې چې د پښتو شعر و شاعرۍ لپاره کوم اوزان او اصناف په لاره واچول شول په دې کې پښتو لنډۍ، غاړې او غـړونـه د دې ژبې تر ټولو لرغوني فوکلوري اشعار دي او پـه دې کې خو ځینې داسې هم دي چې د لرغوني تاریخ یاد تـازه کوي. د بېلګې په توګه د رګ وید په بیتونو کـې د سـومـا متبرک بوټۍ د سپېڅلتیا لپاره دا لنډۍ ویل شوې وه.

سپوږمیـــــــــه! کړنګ وهه راخېژه
یار مې د ګلو لوی کوي ګوتې رېبینه (۵)

د پښتو ژبې د شعر و شاعرۍ دا ټول اصناف لـــه یـوې مخې ولسي وو او د هر چا لپاره وو. لکه څنګه چې پښتو ژبه د هېڅ یوې مذهبې فرقې تر واک لاندې نه وه او نه یې چا د نظمونو په دې موضوع او مضـمـون بـانـدې بـنـدیـز لګولی و، نو له همدې امله په ټولو پښتنو کې دې سروکو او لنډیو تل پاتې محبوبیت او مقبولیت ترلاسه کړی وو.

د ځینو څېړونکو په اند شونې ده، د رګ وید بـیـتـونـه پـه حقیقت کې د پښتو ټپو په بڼه ویل شوي وي او څـنـګـه چې دا ویدونه هم په همدې چاپیریال کې پنځېدلي دي، نو څکه دا خبره له اټکل او قیاس څخه لرې نـه بـرېښـي چې د دوی ژبه به هم لرغوني پښتو ته ډېره نږدې وه، پـه کومه ژبه کې چې په هغې موده کې شپنو سندرې ویـلـې او د خپلو ارواوو د ډاډګېرنې لپاره یې اسباب پـنـځـول. د ویدو عالمان دعوه کوي، وایي چې ټول بشـري افـکـار او موضوعات د وید په سپېڅلې کتاب کې شتون لـري او د دوی د پنځونې چاپیریال هـــم هماغه دی چېـرې چـې اریایان له خپلې جلا وطنۍ څخـــه وړاندې میشت وو. د اسیا د شمال له شینیلیو څخه د هجـرت او کــــډوالـۍ وړاندې د دوی تم ځای د امـو او د اباسین دریاب ترمنـځ پرته د باختر هغه سیمه وه چې اوسمهال هم پـکـې بـې شمېره پښتانه قبایل میشت دي. د موضع د تـنـوع او لا روښانتیا لپاره د چاپیریال د همرنګۍ د یووالي په لـحـاظ پښتو لنډۍ د ریګ وید له سرودونو سره ډېرې ورتـه دي او د دې ورته والي له کبله د افغانستان ځینې څېړونـکـي دعوه کوي چې امکان لـــــري د ویدونو اصلي رېښه او سرچینه له پښتو ټپې څخه اخیستل شوې وي.

پښتو ولسي سندرې لــــــه پیل څخه تر اوسه د خپل چاپیریال او د ولسونو د افکارو د احساسـاتـو تـرجـمـاني کوي. د ولسي شاعرۍ دا اصناف د قدامت لـــــه پلـوه د لرغوني زمانې یادګار دی، نه خو په دې لنډیو کې د کـوم شاعر نوم معلوم دی او نه پرې کـوم شاعر خپلـه دعـوه ثابتولی شي چې پنځونکی یې زه یــــــم. دا هر څوک هـر چېرې او هر وخت زمزمه کولای شي. همدا یې ښېګنه ده او د ټول ولس ګډه شتمنې ګڼل کېږي.

د ادبیاتو د کره کتونکو په اند ولسي سـنـدرې تـر هـغـې پورې د یوه قام د اراوو ښه انځورګري کولی شي چې تر څو په کې د تهذیب او شایستګۍ پیوند نه وي لګول شوی له تصنع سره اشنا شوې نه وي او نه یې ورته د اظهار او خرګندونو په لارو او د احساساتو او جذباتو په بهیر کـې خنډونه جوړ کړي وي او نــه یې د دودیز کلتور تابع کـړي اوسي. که چېرې نظر د اوریدو په ځای د مین پـــه لـټـون کې وي او د زمانې پـــه لوړو ژورو کې موسیقي او ټـنـګ ټکور په دود او دستور برلاسی وي نو د جذباتو دریاب پـه خپله مخه په ګړندي ډول وړاندې ځي، په چټکۍ بهـیـږي او د مینې هېلې چې په لیونتوب نه وي برلاسه شوي، نو د هر قام په اراوو کې د دې روښنایي او ځلا پــــه ولـسي سندرو کې ښه لیدلی شو(٦). د پښتو ولسي سـنـدرو پـه مزاج او دود دستور دواړو باندې د تصـنـع ګـرد نـه دی پرېوتی، له همدې امله د پښتون بشپـړ شـخـصـیـت پـه همدې ولسي سندرو کې خوندي دی.

د پښتو ولـسي سندرې د شتمن او د بې وزلي لـــــــه تشخیص پرته د هر چا د زړه غږ دی او د هر چا د زړه او د روح لپاره د سکون او ډاډګیرنې چارې پرمخ وړي. عـام پښتانه په شعر و شاعرۍ کې صنایع، بدایـع، اشـارې او کنایې یا له فلسفي رمزونو او ټکو څخه ډډه کوي، دوی د خپلو ولسي سندرو بحرونه څپې او رواني خوښوي چې د دوی ټول احساسات او جذبات له دې ولسي سندرو سره د زړه له کومې ترلي دي. دوی د دې خوږلت او د ښیګـڼـو اندازه په ښه توګه کولای شي څکه چــــې همدا ولسي سندرې د دوی د جذبو او احساساتو تـــــر ټـولو ښـه ترجماني کولای شي. د بېلګې په توګه دا ټپې:

د جانان غم پــــــــه ما مېلمه شو
د چرګ پــــر ځای به ورته ځان حلالومه
یار مـــــــې د مرګ په سیند لاهو شو
زه د کفن کښتۍ ګنډم ورپسې څمه (۷)

په پښتو ولسي سندرو کې تر ټـولـو لـوړې هـمـداسې احساسات غزونې کوي. که کور وي یا هوجره، ابادي وي او که بیدیا، د دې سندرو سحر او طلسم په هر پښـتـون سخت اغیز ښندي. څرنګه چې مخکې مې یادونه وکړه د پښتو په ټولو ولسي سندرو کې تصنع نه لیدل کېږي، لـه همدې امله د دې سندرو مینه پاییدونکې او مزاج ژونـدی او تلپاتې دی.

پښتو ولسي سندرو له لـرغوني زماني تر اوسه د رزم او بزم د خوښۍ او خواشینۍ په هره موقع د وګړو د جـذبـو او احساساتو ترجماني کړې ده. د جګړې په ډګر کې هـر سرتېری چې له مرګ سره د سر په بیه د جګړې ډګـر تـه ښکته کېږي دوی هم خپل زړونه په دې ولســـي سـنـدرو ګرموي. میندې او مېرمنې د همدې سندرو پـه ویـلـو پـه دوی کې د غیرت او ننګ جذبه راپاروي(۸). لنډه دا چـې له پېړیو، پېړیو راپدیخوا همد اولسي سندرې دي چې لـه پښتنو سره په غم او ښادۍ کې یو ځای را رواني دي. دا سندرې د دوی په ستونزو کې راګیر ژوند ته د ډاډګـیـرنـې د تسلسل لامل ګرځي.

د تاریخ زده کړیالان د قومونـو زوال او عـروج ظـاهـري علتونو او سببونو ته پام کوي څکه چې دوی د ټـولـنـې د ژوند له لوړو ژورو سره هېڅ نه وي بلد او نه دا موضوع د خپلې مطالعې میدان ګڼي. د ارسطو د وینا لــــه مخـې شعر د یوې ټولنې د حال او ماضي هنداره وي، هـغـه د شعرونو په کمزوریو ګوت څنډنه هم کوي (۹) خو دا هم وایي چې شعرونه په ټولنو کې د تدریجي انقلاب څـواک هم لري. دا ځانګړتیاوې په هغو ټولنو کې چې څواکمنـې وي او په خپلو پښو ولاړې وي د هغوی د شـعـرونـو پـه اصنافو کې ډېر روښانه ښکاري او د هغوی په ملي ټولنـې له هر لورې خپل اغیز ښندي.

که په غور سره وکتل شي د پښتنو ټولنه د دې بـحـث او شننو لپاره یوه غوره بېلګه ده او د دوی ولسي سنـدرې د دوی د فطرت پلو ته زموږ نېغه لارښوونه کوي. څـرنـګـه چې شعر د تاریخ په پرتله فلسفې تـــــه ډېر نږدې دی، همدا سبب دی چـــــې د ټولنې او فلسفې سره د شعـر اړیکې یوه فطري غوښتنه ده. د همدې لپاره شعر د یـوې ټولنې هنداره او فلسفه د انساني ټولنې دویم نوم دی.

که څه هم تر اوسه لا د پښتو ژبې د کتـابي ادب پـه اړه داسې تحریري مواد نه دي ترلاسه شوي چې دا خبره پـه باوري توګه په ډاګه کړي چې د اسلام له خپرېدو وړاندې هم په دې ژبه کې په لیکلي بڼه څه لیکل شوي وو؟ خـو ډېری غربي څېړونکي پـــه دې نظر دي چې د پښتو ژبـې ځینې ادبي اصناف له اسلامي پېر څخه ډېر مخـکـې هـم موجود وو. څرنګه چې مخکې مـــو یادونه وکړه، د ځینـو څېړونکو پـــه باور د وید او اویستا مذهبې ترانې چـې د هندوکش په شمالي سیمو کې پنځول شوي دي، پـه دې کې رګ وید تر ټولو لرغوني د هندوانـــــو مذهبي سندرې دي چې د پښتونخوا په خاوره کې لیکل شوي دي. پـــــه همدې ډول په هغې وخت کې د پښتو د شعر و شـاعـرۍ بازار هم ښه ګرم وو. د دې لــــــه مخې ویلی شو چې د پښتو ژبې تاریخي ادب څلور زره کاله لرغونی دی. د دې موضوع په تړاو د افغانستان په مؤرخینو او څېړونکو کې پروفیسر احمدعلي کهزاد او علامه عبدالـحـی حـبـیـبـي ډېرې لیکنې کړې دي. پروفیســـر احـمـدعـلي کـهـزاد د افغانستان تاریخ لیکلی دی او علامه عبدالحی حبیبـي د پښتو ادبیاتو تاریخ لیکوال دی. نوموړي د پټې خزانې پـه نوم کتاب هم ترلاسه کړی دی(۱۰). په دې کتاب کې لـه دریمې هجري پېړۍ تر د کتاب د مؤلف (محمد هـوتـک) تـــر زمانې پورې د پښتو ژبې د دیوان لرونکو شاعرانو او د نثر لیکونکو پېژندنه شوې ده. دې ښاغلو لیکوالو خـپـلـې څېړنې هغه مهال پیل کړې چې ختیځ پـېـژنـدونـکـي پـه ځانګړي ډول جرمني نژاده څېړونکو او پوهانـو د ځـیـنـو سیاسي ملحوظاتو، مصلحتونو او د خپلو ګټو لـه مـخـې بوخت وو چې د اسیا په زړه کې دا قام نړۍ ته خپل نسل معرفي کړي، خو هغه ناڅاپه پېښېدونکي پېر ته هم ژر د پای ټکی کېښودل شو او په دویمه نړیواله جـګـړه کـې د جرمني ماتې د نړیوال سیاست مخه بل لور ته واړولـه او له دې سره سم د نسلونو او د تهذیبونو په اړه تحقیق او د تصور لارې بدلې شوې، په پایله کې د دې مسلو په اړه له سره نوې څېړنې پیل شوې. پخوانۍ څېړنې او نظریات د نوو څېړنو په رڼا کې یو ځل بیا وڅېړل شول او په ډېـرو برخو کې پخوانو پایلو ته د پای ټکی کېښودل شو.

## مأخذونه او څرګندونې


۱. کیرو، اولف. پټهان، ژبـاړن: مـحـبـوب عـلي، پښـتـو اکاډمي پېښور پوهنتون، ۵مخ.
۲. د اقبال لاهوري د افغانستان اړوند مشهور شعرونه.
۳. لغت نامه دهخدا (بلخ) ته دې مراجعه وشي.
۴. د حمزه شینواري په غزونی اثر کې مشهور بیت دی.
۵. انولډسن، جینز. سپوږمیه کړنګ وهه راخیږه، ۸مخ.
٦. Khan, Abdul Ghani, The Pathan a Sktich.
۷. طائر،نواز. ټپه او ژوند، پښتو اکاډمي پېښور پوهنتون.
۸. که په میوند کې شهید نه شوې
خدایږو لالیه بې ننګۍ ته دې ساتینه
۹. ارسطو. کتاب الشعر (بوطیقا د ارسطو مشهور اثر)
۱۰. د ډاکټر خیال بخاري پـــــــه قول د دې کتاب په رښتینولۍ کې اختلافات تر سترګو کېږي.


(پاتې برخه بله ګڼه کې)

# د دیکلمې هنر ...

۲: په دیکلمه کې تــــــر ډېره دیکلماتور د لوستونکي له حواسو په ځانګړي ډول غوږ او سترګو سره مخامخ وي، نو څومره چې حسي کلمې له زړه او له حالت سره سمې ادا شي، د شعر لــــه معنا سره موازي حرکت وکړي، په درد کې درد، پـــــه خوښي کې خوښي، په خندا کې خندا او ... وپنځوي، هومره به دیکلمه له نورو شعرونو را جلا او د هنر مقام ته رسېږي.

۳: څنګه مو چې د شعر د انتخاب پـــه برخه کې پر دقت ټینګار وکړ، داسې هر غږ او هر ویاند هـــم د دیکلمې هنر او جوهر نه لري، دیکلمه خـــاص غږ غواړي، حتی خاص وخت او حالت غواړي، داسې غږ چـــې د ژبې په سر نه، بلکې له طلایي حنجرې او یـــــوه عاطفي او په ټوله معنا ژوندي زړه څخه را ټوکېدلی وي، د شاعر او دیکلماتور تر منځ د وضعیت او حالت یـــــــو ډول یووالی هم په کې موجود وي.

فرمایشي او پر دیکلماتور د ټینګار له مخې دیکلمه کول هم د دې هنر جوهر ته زیان رسوي، غوره داده چې دیکلماتور خپله دا ذوق او ادبي مطالعه ولري چې کوم شعر، څومره او څنګه دیکلمه کړي بلـــه مهمه دا چې دغه انتخاب کړی شعر څنګه د ځان تابع او پـه ځان پسې یې روان کړي، د شعر پټې او هنري خواوې چې ویدې ښکاري، پـــه خپل رسا غږ را ویښې کړي، که لــــه یوې مخې په شعر پسې ځي، نـو ښایي چې ډېره اغېزناکه دیکلمه راته وړاندې نه شي کړلی، کـــه دا هم نه وي، نو د دواړو تر منځ د توازن رعایت باید وکړي.

۴: نني اورېدونکی چـــــې زیات بوخت دی، ستړیاوو او مجبوریتونو یې وخت ور تنګ کړی او حتی د هغـــه هنري ذوق یې ور مړاوی کړی، نو دیکلماتور ته اړینه ده چـــــې څو محدود او تــــــر ټولو ښکلي بیتونه انتخاب کړي، هر شعر لــــه سره تر پایه په دیکلمه نه ارزي، یا که ارزي هم پر لوستونکي دې مهرباني وشي، را لنډ دې شي او لــــه بیا بیا تمرین وروسته دې ثبت او بیا نهایي شي.

۵: تر ټولو مهمه برخه یـــې د اېډېټ موضوع ده، نن چې هر څوک زیرک موبایل او د ثبت الـــو ته لاس رسی لري، معنا یې دا نه ده چـــې دیکلمه اسانه شوې، بلکې سخته شوې، څکه چې شته اسانتیاوو ته په پام سره باید له هر اړخه له عادي دیکلمـــې سره توپیر ولري، وصل فصل، د غږ طبیعي والی، د حالت تصویر او تجسم او د څپـــــو جوړجاړی رعایت کړي. د دې تر څنګ پـــه ځینو دیکلمو کې د طبیعت د غږونو او انځورونو کــــارونه لکه باد، د څارویو غږونه، ځنګل، د سیند شنهار، د مرغانو اوازونه، ښار، کلي او... باید طبیعي وي نــــه مصنوعي. په همدې ډول د ځینو نغمو د کاپي او پرازېټي بڼو د کارونې پر ځای به غوره وي چې اصلي او طبیعي بڼې یې پیدا شي، چې له دیکلماتور سره په غړیز شفافیت کې پوره مرسته کوي.

٦: د خواله شبکو او چینلونو اړتیا ته په پام سره به بده نه وي چې د دیکلمو متن هم لــــــه لوستنې سره هم زمانه خپور شي، څکه چې لـــه دیکلمې څخه پـــه ټلویزیون او سکرین باندې د استفادې پر مهال به د متن مینه وال له غږ سره متن هم تر لاسه کړي او د شعر بڼه په دقت تر لاسه کړي.

د خواله شبکو او چینلونو اړتیا ته په پام سره به بده نه وي چې د دیکلمو متن هم لـــــه لوستنې سره هم زمانه خپور شي، څکه چې لـــه دیکلمې څخه پـــه ټلویزیون او سکرین باندې د استفادې پر مهال به د متن مینه وال له غږ سره متن هم تر لاسه کړي او د شعر بڼه په دقت تر لاسه کړي.

۷: فرمایشي او پر دیکلماتور د ټینګار لـــه مخې دیکلمه کول هم د دې هنر جوهر ته زیان رسوي، غوره داده چې دیکلماتور خپله دا ذوق او ادبي مطالعه ولري چـــې کوم شعر، څومره او څنګه دیکلمه کړي، بلـــه مهمه دا چې دغه انتخاب کړی شعر څنګه د ځان تابع کړي، پـــه ځان پسې یې روان کړي، د شعر پټې او هنري خواوې چـــې ویدې ښکاري، پـــــه خپل رسا غږ را ویښې کړي، که له یوې مخې په شعر پسې ځي، نـو ښایي چې ډېره اغېزناکه دیکلمه راته وړاندې نه شي کړلی، کـه دا هم نه وي، نو د دواړو تر منځ د توازن رعایت باید وکړي.

دیکلمه هم کټ مټ د شاعرۍ په څېر فطري وړتیا او شوق غواړي څو دیکلماتور له زړه نه را ته یو څه و نه وایي او له یوه کلامه اغېزمن نه شي نو ګرانه ده چې شاعر دې لوستونکي ته لا نور ور وپېژني.

په پورتنیو ځانګړنو نورې هم ور زیاتېدلی شي، خـــو زما وړاندیز دا دی چې دیکلمه کټ مټ د شاعرۍ پـــه څېر فطري وړتیا او طبیعي شوق غواړي، څو چې دیکلماتور له زړه نه راته یو څه و نه وایي او لـــه یوه کلامه اغېزمن نـه شي؛ نو ګرانه ده چـــې شاعر دې لوستونکي ته لا نور ور وپېژني، ښه به وي چې یو زړه د بل زړه استازولي وکړي او د کلام اغېز پـه خپل غږ کـــې تلپاتې کړي. د پښتو شعر د دیکلمې په برخه کې فریده هوډ سیفي، داوود عظیمي، ولي عبدالله، پیرمحمد کاروان، ممنون مقصودي، شېر اغا غورځنګ،صالحه اسحاقزی، نذیراحمدنذیر، سلیمان خپلواک، امنې فنا او... د ډېرې ستاینې وړ دي. **پای**

# زېری

علمي- څېړنيزه او ادبي پنځلس ورځنۍ جريده

د تأسيس کال ١٣١٦ هجري شمسي

د ١٤٠٤ ل.کال، د سلواغې میاشتې ۲۱- ۲۲مه ګڼه | پرله پسې ۴۶۱- ۴۶۲ مه ګڼه

**مسئول مدير:** څېړنوال دوکتور محمد اسحق خاورين

**مهتمم:** څېړندوی پښتون پښتون

**کمپوز او ډيزاين:** دوکتور خاورين

**کتنپلاوی:** اکاډميسين څېړنپوه دوکتور سيد محي الدين هاشمي، څېړنوال رحيم الله حريفال، څېړندوی احسان الحق کبير، څېړندوی مطيع الله ساحل

**برېښناليک:** zerai1316@asa.gov.af / zerai1316@gmail.com

● په زېري جريده کې له سرليکنې پرته، د نورو ليکنو سپيناوی په ليکوالو پورې اړه لري.

د افغانستان د علومو اکاډمي
د ژبو او ادبياتو مرکز
څېړنيز ارګان

**د اړيکې شمېرې:** (+93) (0) (780831960)
(+93) (0) (202201279)

www.asa.gov.af

د علومو اکاډمي، د ژبو او ادبياتو مرکز، توره باس خان څلورلارې، نوی ښار کابل- افغانستان

**د يوې ګڼې بيه:** پنځه افغانۍ




# په اسلام کې د شعر ارزښت او ځنه

**ژباړه او راټولونه:**

**څېړندوی محمد طاهر شرر ساپی**

الله تعالی چې هـر پیغمبر رالېږلی د هغه قوم په ژبه يې راستولی دی، څـــو ورته د خپل قدرت نښې د چاپېريال سره سمې وښايي. د موسی علیه السلام پـــه زمانه کې سحر خپل ورستي پړاو ته ورسېد. موسی علیه السلام د يوې داسې معجزې سره راغی چـــې ټول ساحران يې مسلمانان کړل. د عيسی علیه السلام په زمانه کې طبابت خپل وروستي پړاو ته ورسېد نو عيسې علیه السلام د مړو د بیـــا ژوندي کېدو معجزه راوړه. د ابرص ناروغ به يې جوړوه. د رسول الله صلی الله عليه واله وسلم پـه زمانه کې عربي ادب پـــه خپل وروسته برید ولاړ و. چا چې به ښه شعر ووايه نو هغه بـــه يې د هبل پر غاړه راځړاوه، ځکه چې هبل په يونان کې د شعر خدايګوتی بلل کېده او عربانو کعبې ته راوړی و. قران نازل شو، عربي اديبان او شاعران يې وارخطا کړل. کله چې بـــه قران لوستل کېده دوی به خپل فاحش شعرونه شروع کړل چې خلک ترې راوګرځوي، همغه و چې پــه اړه يې ايات نازل شو، خو لـــه دې سره سره بيا هم رسول الله صلی الله عليه واله وسلم خپل شاعر درلود، حسان بن ثابت. د احد پـه غزا کې په سخت حالت کـــې پرې رسول الله صلی الله عليه واله وسلم غږ وکړ، (اهجوهم وروح القدس مع) د شعر برید پرې وکړه جبرېل درسره دی. کله چې هم د يوې قبيلې مشران راغلل، رسول الله تـــه يې وويل، موږ شاعر او خطيب راوستلی دی، تاسې يې هم راولئ موږ به وګورو که دا سيالي تاسې وګټله موږ ايمان راوړو. رسول الله صلی الله عليه واله وسلم پــه حسان بن ثابت پسې استازی ولېږه او هغه راغی، قيس يې هم راوغوښت کله چې سيالي پای ته ورسېده، نو د قبيلې مشر وويل خطيب مو زموږ لـــــه خطيبه يوړه او شاعر مو زموږ له شاعره وګټله، هم هغه وه چې ايمان يـــې راوړه. عمر بن الخطاب رضي الله عنه به ويل: (عليكم بديوان العرب) تاسې بايد د عربانو شعرونه ولولئ چې په دې کې د قران نيم علم دی.

> د بدر په غزا کـــې رسول الله صلی الله عليه واله وسلم خپل ترورزی وواژه. دا هغه بدبخته و چې په کعبه کې يې د رسول الله (ص) پــــه ورمېږ پښه کېښوده او هغه وخت ورته رسول الله اخطار ورکړ که لـــه مکې څخه د باندې راسره مخ شوې بيا دې وژنم. ده به په قران باندې ملنډې وهلې، کله چې يې خور د خپل ورور پـــه اړه يوه سانده وويله او رسول الله (ص) تـه ورسيده هغه وويل کـــــه مې دا د ده له مرګه مخکې اورېدلی وای نو پرينښی به مې وای.

د بدر په غزا کـــې رسول الله صلی الله عليه واله وسلم خپل ترورزی وواژه. دا هغه بدبخته و چې په کعبه کې يې د رسول الله (ص) په ورمېږ پښه کېښوده او هغه وخت ورته رسول الله اخطار ورکړ که لـــه مکې څخه د باندې راسره مخ شوې بيا دې وژنم. ده به په قران باندې ملنډې وهلې، کله چې يې خور د خپل ورور پـــه اړه يوه سانده وويله او رسول الله صلی الله عليه واله وسلم تـــــه ورسيده هغه وويل کـــــه مې دا د ده له مرګه مخکې اورېدلی وای نو پرينښی به مې وای.

په بشري تاريخ کې د شعر د ارزښت پـــــه اړه په زرګونو بېلګې شته چې بحث اوږد نه شي نو له دې وړوکې مقالې په پای کې دې ته رسيږو چې شعر د تاريخي او اجتماعي ګټو سر بېره دوه لويې ګټې لري.

۱. يو د شعر جمالياتي اړخ دی چې دغه برخه يې کولی شي په مخاطب کې د ښکلا احساس پياوړی کړي. عاطفه يې صيقل کړي او بيا چې هر چېرته بدرنګې يې ووينې پر وړاندې يې د بغاوت توغ پورته کوي.

۲. د طبيعت پر وړاندې مو د وېرې احساس راکموي. له طبيعت سره مو تناسق او تطابق راولي. د ژوند نـــا اشنا ګوټونه راته راسپړي. يوه مهال به انسان له ځنګله څومره ډارېده خو که هغه انسان د معاصر شاعر کاروان ځنګل ته ليکلی نظم ولولي نو پر ځنګل به مين شي.

ځينې ملګري بيا دا هم وايي چې شاعران ټوله ورځ پـــــه بېځايه غونډو لګوي چې هيڅ ارزښت نـــــه لري موږ خو د شعر په ارزښت وغږېدو نو غونډې خـــــو به يې هرومرو ارزښتناکې وي. همدا د دې ټولنې وګړي دي چـــــــې جمالياتي حس يې پياوړی دی. خـــو زه حيران هم دغه خلکو ته يم چې په خپل مسلک کې ولې داسې غونډې نه تنظيموي، ولې يو د بل لمانځغونډې نه نيسي؟

د دې خبرې ځواب ډېر ساده او بسيط دی، هغه دا چې يا دوی داسې څه نـــه لري چې وېې لمانځي يعنې کوم نوی ابتکار نه لری او يـــا هم د دوی جمالياتي حس کمزوری دی. پر ماده يې تکيه کړې ده او کـــله چې هم يوازې پر ماده تکيه وشي نو له انسان نـــه ماده پرست جوړوي او خبره بلې خوا ته وړي. کـــــه ډاکټر کتاب وليکي همدا شاعران يې ستايي او غونډې پرې نيسي. که په بل مسلک کې وليکل شي بيا هم دا خلک دي چې هڅوي يې ځکه چې د دوی ښکلايز حس پياوړی دی او دا ټول د شعر او ادب له برکته دی. نـــــو هر هغه ټولنې که غواړی چې پرمختګ وکړي بايد له هـــــر څه نه مخکې ادب ته مخه کړي څو يې جمالياتي حس پياوړی شي. مادي او معنوي ارزښتونه يې پر يوه کنډه برابر وخيژي. هسې نه چې يا ماده پرستان شي او يا هم راهبان شي او دې دواړو ته په اسلام کې ځای نشته. پای

# "پښتو هنري نثر" اثر ته کتنه

**څېړنپوه عبدالرحيم بختانی خدمتګار**

"پښتو هنري نثر" هغه کتاب دی چـــې د پياوړي روسي ليکوال او ختيځپوه ګ.ف ګيرس لـــه خوا په روسی ژبه تألیف شوی دی. نوموړی کتاب پـــه ١٣٦٥ هـ ل کال کې د سر محقق معتمد شينواری له خوا په پښتو ژبه وژباړل شو او د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت د بيهقی کتاب چاپولو مؤسسی له خوا په (١٢٣) مخونو کې چاپ شو.

د کتاب په پيل کې د افغانستان د نامتو او پياوړو ليکوالو لـــه خوا د کتاب په اړه تبصري وړاندې شوي دي، لومړۍ تبصره د ښاغلی استاد عبدالروف بينوا ده. استاد بينوا د دې کتاب د مهمو ګټو په اړه ليکي:

> په تبصره کې يوازې د ستاينې خوا نه ده نيول شوې، بلکې د هــرې دورې نثر او ادبي جريان ته په انتقادي نظر هم کتـــــل شوي او نيمګړتياوې يې ښودل شوي دي. دغه کتاب د پښتو د زلميو ليکوالو لپـــاره د ژبني تحقيق يوه ښه نمونه کيدلای شي، چې د دې کتاب له لوستلو څخه دوی ته د علمي څېړنې طرز په ښه توګه څرګنديدلای شي.

"په دې کتاب کې په افغانستان کې د پښتو د نثر تاريخی مراحل پـــــه ښه اسلوب ټاکل شوي او ورباندې تبصره شوې ده. په تبصره کې يوازې د ستايني خوا نه ده نيولی شوې، بلکې د هـــــــرې دورې نثر او ادبي جريان ته په انتقادي نظر هم کتــــــل شوي او نيمګړتياوې يې ښودل شوي دي. دغه کتاب د پښتو د زلميو ليکوالو لپـــــاره د ژبني تحقيق يوه ښه نمونه کيدلای شي، چې د دې کتاب له لوستلو څخه دوی ته د علمي څېړنې طرز په ښه توګه څرګنديدلای شي. د کتاب ژباړه هم ډيره ښه روانه او سليسه ده او د ژباړن سليقه او زيار هم د ستاينی او قدر وړ دی". (١)

دويمه تبصره د استاد ګل پاچا الفت ده. په دې برخه کې د دې کتاب په اړه د الفت صاحب د تبصرې يـــــوه برخه وړاندې کوم:

"زه سره له دې چې د ښاغلي ګيرس ډير کار او ډير زيار ستايم، دا هـــم وايم چې دا کتاب د يوه ادبي تحقيق او تبصرې ډير ښـــــه اساس او اغاز دی، که ښاغلی مؤلف پرې نور هم ډير غـــــور وکړي او خپل علمي او ادبي تحليلات ښه پاخه او کره کړي، يو لوی مهم ادبي خدمت به سر تـــــه ورسوی، ځکه چې فعلاً په دې کتاب کې لا د بحث او جدال ډير مجال شته او کره کتونکي په کې ډيرو ټکو ته ګوته نيولی شي.

سره له دغو خبرو زه دا کتاب يو مفيد اثر ګڼم او دا منمه چې د مؤلف تحقيق او تتبع ښه ارزښت لری او د دغسي کتاب چاپول د نورو ليکوالو لپـاره د بحث او مباحثي ډيره ښه زمينه برابروی". (٢)

> "زه سره له دې چې د ښاغلي ګيرس ډير کار او ډير زيار ستايم، دا هـــم وايم چې دا کتاب د يوه ادبي تحقيق او تبصرې ډير ښـــــه اساس او اغاز دی، که ښاغلی مؤلف پرې نور هم ډير غـــــور وکړي او خپل علمي او ادبي تحليلات ښه پاخه او کره کړي، يو لوی مهمٍ ادبي خدمت به سر تـــــه ورسوی، ځکه چې فعلاً په دې کتاب کې لا د بحث او جدال ډير مجال شته او کره کتونکي په کې ډيرو ټکو ته ګوته نيولی شي.
> سره له دغو خبرو زه دا کتاب يو مفيد اثر ګڼم او دا منمه چې د مؤلف تحقيق او تتبع ښه ارزښت لری او د دغسي کتاب چاپول د نورو ليکوالو لپـاره د بحث او مباحثي ډيره ښه زمينه برابروی".

درېيمه تبصره د استاد قيام الدين خادم ده. استاد خادم په خپله تبصره کې اول د پښتو ادبياتو پـــــه برخه کې د روسيې د ختيځپوهانو د کارونو او فعاليتونو په اړه او په ځانګړې توګه د پښتو ادب په برخه کې د ګيرس د علمي کارونو په اړه معلومات وړاندې کړي دي او بيا يې د کتاب د مختلفو برخو پـــــه اړه خپل نظريات وړاندې کړی دی. استاد خادم صاحب د دې کتاب او د کتاب ليکوال په اړه داسې ليکي:

"زما په خپله د ښاغلي ګيرس کـــــار ځکه خوښ دی چې صاف، ستره، بی ريـــــا او صريح دی. کومه ليکوالي چې انتقاد نـــــه لري نو هغه مګر د خوشامندګرو ادب وی: ښاغلی ګيرس زما په ليکنو کې کله کله تضاد ويني.

خو کـــــه ما سره مخامخ کښيني ښايي چې له ما څخه داسې دلايل واوري چې قانع شي. زه د ښاغلي ګيرس دا تأليف د افغانستان لپاره ډير ګټور بولم. رښتيا خبره دا ده چې په دې کتاب کـــې ډير ګټور معلومات شته، مګر د دې کتاب د ليکلو نه وروسته په اشخاصو، آثارو او معلوماتو کـــې ډير انکشاف شوی دی او تغير راغلی دی، ښايي چې دا به بل څوک وليکي". (٣)

د دغو دريو تبصرو او نظرياتو نـــه وروسته د کتاب سريزه د (يو څو خبرې) تـــــــــر سرليک لاندې نشر شوې ده. په سريزه کې د کتاب د محتوياتو په اړه او همدارنګه د کتاب د ليکوال د ژوند ليک پــه اړه معلومات وړاندې شوي دي. نوموړی کتاب فهرست نه لری او د کتاب مهم سرليکونه په لاندې ډول دي:

> ۱ : پښتو ادب ته يوه عمومی کتنه
> ۲ : د پښتو اوسني بديعي نثر د پـــــرمختګ تاريخي ريښې
> ۳ : د پښتو د اوسني هنري نثر مؤسس
> ۴ : په افغانستان کې د پښتو اوسني نثر د پيدايښت زمينه
> ۵ : په حياتي کيسو کې تعليمي نثر
> ٦ : د ادبي کدرونو په روزلو کې د مکتب رول

۱ : پښتو ادب ته يوه عمومی کتنه
۲ : د پښتو د اوسني بديعي نثر د پرمختګ تاريخي ريښې
۳ : د پښتو د اوسني هنري نثر مؤسس
۴ : په افغانستان کــــــې د پښتو د اوسني هنري نثر د پيدايښت زمينه
۵ : په حياتي کيسو کې تعليمي نثر
٦ : د ادبي کدرونو په روزلو کې د مکتب رول

نوموړی کتاب نژدې پنځوس کاله پخوا چاپ شوی دی. يو ټوک يـــې د افغانستان د علومو اکاډمۍ په کتابتون کې شته. په دې برخه کې زما وړانديز او نظر دا دی، چې دا کتاب د پښتو ادبياتو د استاذانو او شاګردانو او د پښتو ادب د مينه والـــو د استفادې لپاره بيا چاپ او ټولنې ته وړاندې شي.

## مأخذونه


۱. ګيرس،ګ.ف. پښتو هنـــــری نثر، ژباړن: سرمحقق معتمد شينـواری، دولتی مطبع: ١٣٦٥ل کال، الف مخ.
۲. پورتنی اثر، ۲مخ.
۳. پورتنی اثر، ۲مخ.


**دوکتور محب وزير**

# شخصيت پېژندنه

شخصيت کلمه چې پـــه انګريزي ژبه کې ورته پرسنلټي وايي پخوا هم کارېده خو په ننی زمانه کې کارونه ېې عامه شوې ده او بيا په خاصه توګه کله چې زمونږ ټولنه د پرسنلټي کلمې سره زياته اشنا شوې ده، نــو دا کلمه تش جامو (لباس) او ظاهري جوړ جـــاړې پورې محدوده شوې غوندې ده.

بل لور تـــه د ارواپوهنې د علم په ترڅ کې هم دا کلمه د بنده ذاتي عاميانه خويونو عادتونو پورې رالوېدلې ده. دا د شخص او شخصي په ضمن کې خو بيا ېې په هر فرد پورې تړل شوې ده. دارنګې نن سبا خو د پښتو په ډکشن کې د پرايوېټ په معنا کې هم کارول کېږي، لکه دا زما شخصي مسئله ده يـــــا دا شخصي ملکيت دی يا دا شخصي کتابتون دی او داسې نور.

د اردو او پښتو په تحقيقي مقالو کې هم دا کلمه ېې لکه د نفسياتو د علم په رڼا کې کارول کېږي. د فلاني فن او شخصيت خو په دې کـــې دا نه کتل کېږي چې فلانی واقعي شخصيت دی هم او که نه.

زما پـــــه خيال شخصيت د نفسياتو نه پرته په ټولنيزو علومو (سوشل سټډيز) کـــې د غېر معمولي بنده لپاره کارول بـــه مناسب وي. دا يو عام فرد ته منسوبول به مناسب نه وي. د خوشحال ختک د دستارنامې په رڼا کې خو دا د غېر معمولي بنده لپاره هم نه، د ډېر -- ډېر -- ډېر غېر معمولي بنده لپاره بايد چې وکارول شي.

شخصيت لپاره تر ټولو اهم څيز باور، اعتماد دی. يعني يو بنده چې د خلکو په نظر کې هم باوري وي. باوري تش په دې معنو هم نه چې ګڼي هغه باندې د خبرو، پيسو، قيصو باور کېدای شي بلکې باور پـــــه دا معنا چې هغه بنده په خپل ځان هم باوري وي. هغه په خپله رايه/دريځ باور لري، په خپله خبره باور لري، په خپل علم/پوهه باور لري، په خپله لاره/ نظريه/ عقيده باور لري، په خوښه او ناخوښه باور لري او پـــه خپل اصول باور لري. دا هر څه پـــه بنده کې ځانګړتيا پيدا کوي. د هغه خبرې چې د باور په بنياد وي نو هغه بـــــه خامخا د نورو څخه بدلې/ مختلفې وي. د هغه د سوچ زاويه به د نورو نه بدله وي. ټول خلک يوه قيصه/ معامله/ ستونزه ته په يو نظر ګوري خو شخصيت به ورته په بل نظر ګوري. معامله فهمي د شخصيت لوی عنصر دی، يعني پـــــه جذباتي انداز د ستونزې حل نه لټوي، بلکې د صبر، استقامت او تحمل نمونه به وي. د مصلحت به نـــه ښکار کېږي. يعني لږ لږ ضدي پن به په کې وي. پـــه خپل سوچ او په خپل اصول چرته هم کمپرومايز ته نه تيارېږي. د مضبوطو اعصابو خاوند به وي، د کردار نمونه به وي. د لوړ تخيل مالک به وي، د تخليقيت په صلاحيتونو به پوره وي او د تقليد نه به مبرا وي. دغه پورته توکي چې يو بنده لري نو هغه به مدام خپله موجودګي ثابتوي، د محفلونو به شمع وي، په خلکو به حاوي وي، بلکـــې د خلکو په اعصابو به سور وي او دا به په حقيقت کې يو شخصيت بلل کېږي.

خو يوه اخري خبره دا هم بايد په نظر کې وساتو چې د ټولنيزې پوهې، اخـــلاقي معيارونو او د علمي او سياسي ادراکاتو په رڼا کې د شخصيت پيمانه هم ښکته پورته تلی او راتلی شي. يعني د ټولې نړۍ لپاره دا پيمانه يوه نه شي کېدی بلکې د ټولنيز صورتحال په رڼا کې به د شخصيت پيمانه جوړېږي. پای


ZERAY
Afghanistan Sciences Academy (ASA)

**Editor - In - Chief:**
Associate Professor
Muhammad Ishaq Khawreen (PhD)

**Assistant:**
Assistant Professor Pashtoon Pashtoon

*Compose & Layout Design:*
Dr. Khawreen

**Address:** Center for Languages & Literature,
Institute of Pashto Language & Literature (ASA)
Shahr-e-Naw Kabul - Afghanistan
**Contacts:** (+93)(0)202201279/(+93)(0)780831960
**Email:**zerai1316@asa.gov.af/zerai1316@gmail.com